# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد	بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم	از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com	www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |

ناظم حکمت
ژباړه: فرهاد ویاړ
۲۹ سپتمبر ۲۰۱۱

## پیغله کی

ورونه وهم
ورونه جدا جدا وهم
تاسو ما نه وینئ
*
مړي نه لیدل کیږي
*
په هیروشمیا کې
لس کاله، مې له مرګه تیریږي
زه اوه کلنه انجلۍ یم
*
مړه ماشومان نه لوییږي
*
اول
ویښتو مې اور واخیست
سترګې مې وسځیدلې او وریتې شوې
یو موټی ایره شوم
ایره مې باد ویوړه
*
زه د ځان لپاره له تاسو نه څه نه غواړم
د هغه ماشومې په شان
چې لکه کاغذ سوې ده
او نشي کولای د نبات اوبه وڅښي
ستاسو د کورونو ور ډبوم:
ترور، اکا
لاسلیک يې کړه
چې نور ماشومان مړه نشي
او وکړای شي د نبات اوبه وڅښي.